بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

## د دوحې بهیر: د ګډو ګټو لپاره د ګډو همکاریو اړتیا




لیکوال: **محمد حنیف اتمر،** ۱۴۰۳ د چنګاښ ۱۵مه

د دې مقالې دري متن د ١٤٠٣ کال د سرطان د میاشتې په ١٧ مه نېټه د بي بي سي په فارسي سایټ کې خپور شو.

د افغانستان د خلکو او نړیوالې ټولنې لپاره د دوحې بهیر د پرمختګ او بیاکتنې په هکله بحثونه تېره اوونۍ د درېیم پړاو له پای ته رسېدو سره تاوده شوي دي.

زمونږ خلک له معصومانه غوښتنو سره پایلو ته انتظار باسي. سیمه‌ییز او نړیوال اړخونه چې د افغانستان وضعیت او د خپلو ګټو په هکله اندېښمن دي، پایلې ارزوي.

ورته مهال، د هېواد د زړورو ښځو له خوا تر ټولو اړین روڼاندی اقدام ترسره شو چې د درېیم پړاو د اجنډا په تړاو پې په خپلو برحقه لاریونونو سره یو ځل بیا د نړیوالې ټولنې پام د افغانستان تریخ واقعیتونو ته را واړولو.

په دې لیکنه کې هڅه شوې چې د دوحې د بهیر پرمختګونه او شاتګونه او ورپسې اقدامات د افغانستان، سیمې او نړیوالې ټولنې د ګډو ګټو له نظره وڅېړل شي څو د ملي او نړیوالو همکاریو په بحث کې د ګډون په موخه ونډه ادا شوې وي.

راځئ چې لومړی پې له پرمختګه پیل کړو:

**لومړی، د درېیم پړاو مجلس د دوحې بهیر په رسمي ډول سره پیل کړ چې دا چاره د افغانستان د ناورین د حل لپاره تاریخي او بې بدیله فرصت برابرولی شي.**

د دوحې بهیر خپل نوی ماموریت له نړیوالې اجماع څخه چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا په ٢٧٢١ (٢٠٢٣) پرېکړه‌لیک کې څرګند شوی، ترلاسه کړی دی او ټاکل شوې د دې پرېکړه‌لیک موخو ته د رسیدو لپاره په هدفمند ډول پرمخ لاړ شي.

دا پرېکړه‌لیک د ښاغلي سینیرلي اوغلو د خپلواکې ارزونې هغه راپور  تائید کړ چې د افغانستان د ناورین د حل لپاره پې وړاندیزونه او د لارې نقشه وړاندې کړې دي او له ټولو غړو هېوادونو پې غوښتې چې د دغو وړاندیزونو په عملي کولو کې جدي هڅې وکړي.

د ملګرو ملتونو امنیت شورا د نړیوالې ټولنې د منسجمو او همغږو هڅو اړتیا ته په پام، په افغانستان کې د تلپاتې سولې او ثبات، نړیوالو تعهداتو او ښځو حقونو ته د ژمن نظام ټینګښت لپاره خپلو نړیوالو بین‌المللی همکارانو ته یو عمومي جوړښت غوره کړی او د سینیرلي اوغلو د وړاندیزونو پر بنسټ، د افغانستان حکومت بیا په دې شرط په نړیواله ټولنه کې شاملېدای شي چې د افغانستان بین‌المللي تعهدات رعایت کړي او د نظام د مشروعیت لپاره د افغانانو خپلمنځي خبرې پیل شي.

د افغانستان خلکو او نړیوالې ټولنې ته د ډاډ ورکولو لپاره، ملګري ملتونه، د دوحې بهیر د تنظیمونکي په توګه، په وار وار اعلان کړی چې د دغه بهیر ماموریت به د امنیت شورا او د سینرلي اوغلو سپارښتنو او ټاکلو موخو ته پر رسېدو متمرکز وي. همداراز په هغو ناستو کې هم چې ما د دوحې له درېیمې ناستې یوه میاشت وړاندې د شاوخوا نیمایي هېوادونو له سفیرانو او لوړپوړو استازو سره لرلې، دوی ټولو دا مسئله تایید کړه.

بناً د پورتنیو موخو د ترلاسه کولو لپاره د دوحې د بهیر ترسره کول چې بې له شکه د افغانانو مشروع غوښتنې انعکاسوي، یو مهم پرمختګ دی چې باید هرکلی یې وشي.

**دویم، د دوحې درېیم پړاو وکړای شول د افغانستان د راتلونکي په هکله د نړیوالې ټولنې د هېوادونو نسبي اجماع وساتي او د خپلو استازو او طالبانو ترمنځ خبرې‌اترې رامنځته کړي.**

په دې وروستیو میاشتو کې موږ په سیمه کې د داسې اندېښمنونکو تحولاتو شاهدان وو چې د نړیوالې اجماع د پرځېدو ګواښ یې له ځانه سره لرلی دی. له افغانستان سره د تعامل د «سیمه‌ییز کېدو» هڅې، د اړیکو د عادي کولو او د طالبانو د رسمیت پیژندلو لپاره یو اړخیز اقدامات، د تور نوملړ لرې کول او په ملګرو ملتونو کې د افغانستان د استازي د څوکۍ د سپارلو غوښتنه، پرته له دې چې د سینرلي اوغلو د راپور اساسي شرطونه او د ملګرو ملتونو د پرېکړه‌لیک روح په پام کې ونیول شي، د دې مثالونه دي.

د نړیوالې اجماع ماته به بې له شکه د افغانستان خلکو او نړیوالې ټولنې ګډو ګټو ته نه‌جبرانېدونکی زیان ورسوي. د دوحې بهیر پیل چې د سیمې د مهمو هېوادونو او نړیوالې ټولنې له قوي حضور سره مل وه، ښايي د نړیوالې اجماع د ماتېدو مخه ونیسي.

ښکاره ده چې د دوحې بهیر د غړو هېوادونو سیاسي، امنیتي او اقتصادي ظرفیتونه او د هغوی ډله‌ییزه او ګډه ګټه اخیستنه پر طالبانو د لا زیاتو اغېزو لپاره امکانات رامنځته کوي تر یو اړخیز تعامل پورې.

یو اړخیز تعاملات د دغو هېوادونو او طالبانو ترمنځ د باور د نشتوالي له کبله سخت اغېزمن شوي او د باور جوړونې لپاره لاهم اوږده لاره پاتې ده، مخصوصاً له افغاني او پاکستاني طالبانو سره د پاکستان حکومت د تعامل تر ناکامه او خونړۍ تجربې وروسته.

بل خوا ملګري ملتونه د نفوذلرونکو هېوادونو د پردې تر شا ډیپلوماسۍ په مرسته وتوانیدل چې د طالبانو استازي د درېیمې دورې ناستې ته (البته په ډېره لوړه بیه) کینوي او له دوی سره د نړیوالې ټولنې ګډې غوښتنې او هغه دریځ چې د افغانانو له غوښتو سره اړخ لري، شریک کړي.

اوس طالب مشران اړ دي چې سخته او حیاتي محاسبه وکړي: ایا دوی به د افغانستان له خلکو او نړیوالې ټولنې سره د سولې او هوکړې لپاره یوه اصولي حل لاره غوره کړي او یا به د تقابل او بربادۍ په لور روان شي؟ که موږ د افغانستان او نړۍ تاریخ ته وګورو، د یو ملت د برحقه غوښتنو پر وړاندې دریدل د هېڅ نظام د بقا تضمین نه کوي، ان که د زور او جبر له لاروچارو هم کار واخلي.

همدارنګه په دې بهیر کې به د ګډون کوونکو هېوادونو د کړنو په تړاو د افغانستان او نړۍ د عامه افکارو په محکمه کې قضاوت کیږي. بېخي روښانه ده چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له پرېکړه‌لیک سره سم د غړو هېوادونو ډله‌ییز دریځ او فعالیت نه یوازې د نړیوالې اجماع مشروعیت لري، بلکې د افغانستان د نړیوالو مکلفیتونو د رعایت لپاره د طالبانو د اړ کېدو یو ښه امکان هم لري. برعکس، یو اړخیز اقدامات نه یوازې د دوحې بهیر او نړیوالې اجماع ته زیان رسوي، بلکې په اوږد مهال کې هم نه شي کولای د ورته لوري مشخصې ګټې هم تضمین کړي. د افغانستان، سیمې او نړۍ د سولې او ثبات د تضمین لپاره پر یو واحد نړیوال صف تکیه ډېر ډاډمن کار دی.

په همدې حال کې، لکه څرنګه چې وویل شول، د دوحې ددې بهیر پیل هم له یو لړ شاتګونو سره مل و چې که یې د هواري لپاره کار ونه شي، ټول بهیر او ګډې ګټې به له ګواښ سره مخامخ کړي. دا خنډونه هم کیدای شي په دوو مواردو کې وارزول شي:

**لومړی، د دربېیم پړاو اجنډا د امنیت شورا د ۲۷۲۱ پرېکړه‌لیک لومړیتوبونه منعکس نه کړل او له اصلي لارې یې انحراف وښود.**

ملګري ملتونه او د دوحې بهیر ځینې غړي ادعا کوي چې د دربېیم پړاو اجنډا (د بدیل معیشت او خصوصي سکټور ملاتړ او د هېواد د مالي او بانکي نظام احیا کول) د دې لپاره چمتو شوې چې طالبان په دې ناسته کې ګډون ته وهڅوي او ټاکل شوې چې په راتلونکو ناستو کې به اجنډا اصلي کار ته (د ښځو د حقونو، سولې او امنیت په ګډون د افغانستان د نړیوالو مکلفیتونو رعایت) راوګرځي.

له شک پرته دا اجنډا د افغانستان لپاره ډېر ارزښت لري، په تېره بیا له هغه نظره چې زموږ د هېواد په ګوټ ګوټ کې سلګونه زره کورنۍ د مجبوریت او په تېره بیا د جګړو په کلونو کې د کوکنارو کښت ته مخه کړې او اوس ددې کښت د مخنیوي له اقداماتو څخه سخت زیانمن شوي دي. دا کورنۍ په جدي توګه لنډ مهاله او اوږدمهاله مرستو ته اړتیا لري ترڅو د پایښت وړ او ژر ثمره اقتصادي او ټولنیز بدیلونه رامنځته کړي.

دا کومه کوچنۍ مسئله نه ده؛ هر کال په ملیاردونو ډالرو نړیوالو مرستو ته اړتیا ده، ځکه چې د کوکنارو د کښت بندېدل به د هېواد اقتصاد ته په کال کې لږ تر لږه له درې څخه تر څلورو ملیاردو ډالرو زیان ورسوي (د څو کلونو دمخه د محاسبې ته په پام). البته دا دلیل په هېواد کې د کوکنارو د کښت د دوام لپاره نه دی مطرح شوی، بلکې د دې ستر ناورین د حل لپاره د یوې مسوولانه پالیسۍ او طرحې جوړولو لپاره وړاندې کیږي.

بل خوا، د بندیزونو لرې کول او د هیواد د مالي او بانکي سیسټم بیا رغونه کولی شي د پانګونې د ودې او د کار فرصتونو رامینځته کولو او په پایله کې په هیواد کې د بې وزلۍ کمولو لپاره اساسات برابر کړي، که هېواد د یو مشروع

حکومت، ملي امنیت، انرژي، ترانسپورت او ارتباطي جوړښتونه، او د یو تعلیم یافته کاري ځواک (نارینه او ښځینه دواړه) څخه برخمن وي.

که له هغو بحثونو او د هغوی له پایلو څخه چې ددې پړاو په مجالسو کې وشول، تیر شو، پورته ذکر شوي دواړه موضوعګانې په اوس وخت کې اړینې، خو غیر واقعبینانه دي. له داسې یو نظام پرته چې د نړیوالو تعهداتو او مکلفیتونو رعایتولو ته ژمن وي، له دغو هېوادونو او سازمانونو څخه به هېڅوک حاضر نه شي ترڅو د اوږدمهاله پراختیایي مرستو په چوکاټ کې او هغه هم د دولتي بودجې له لارې په میلیاردونو ډالرو پانګونه وکړي. همدارنګه، د روڼتیا او اعتبار وړ بانکي سیستم پرته چې د FATF (د مالي اقدام ځانګړې ډله) د معیارو سره سمون ولري، دا تصور کول ګران دي چې نړیواله ټولنه به بندیزونه لېرې کړي او نړیوال بانکونه به د سوداګرۍ لپاره له افغان بانکونو سره همکاري وکړي.

او په پای کې دلته اساسي پوښتنه دا ده چې ایا د پانګونې وده او د بېوزلۍ له منځه وړل د اوسنیو واکمنانو له تبعیضي سیاستونو سره چې د هېواد تر نیمايي زیات نفوس یې د زده کړې، کار او سفر له حقه بې برخې کړی، ممکن دی؟ دردوونکې دا ده چې د هېواد اوسنیو او راتلونکو نسلونو ته دا ډول تاریخي ظلمونه او نه جبرانېدونکې زیانونه یوه داخلي او د بحث نه وړ موضوع ګڼل کېږي!

**دوهم، د دوحې په درېیم پړاو کې د افغانانو ربښتینی استازیتوب ونه شو او د خپل غږ له پورته کولو محروم شول. دې چارې د ګډ نړیوال هدف د ترلاسه کولو لپاره د دوحې پروسې سیاسي اعتبار او اغېزمنتیا ته زیان رسولی دی.**

د دوحې په بهیر کې ښکېلو کسانو د دې کار د توجیه کولو لپاره دوه دلایل وړاندې کړل: یو دا چې طالبان یې نه مني او شرط یې دا ایښی چې له دوی پرته که له افغانستان څخه بل هر کس، خوځښت یا ډلې ګډون وکړ، دوی به ګډون ونه کړي. دویم دا چې د هېواد سیاسي او مدني جریانونه دومره پاشل شوي او وېشل شوي چې د ګډون لپاره نشي کولی څو پر یوه ګډ او باوري پلاوي هوکړه وکړي.

له بده مرغه دواړه مسئلې ربښتیا دي، خو که د دوحې په بهیر کې ښکېل کسانو په مسوولانه ډول فکر کړی وای او د غیر طالب افغان خوځښتو وړاندیزونو ته یې غوږ نیولی وای، دواړه ستونزې حل کیدې. که په دې پړاو کې طالبان دې ته چمتو نه وو چې له خپلو هېوادوالو سره په یوه مجلس کې ګډون وکړي (البته د افغانانو د دود خلاف چې دوی ته یې د جګړې پر مهال په بین الافغاني ناستو کې د ګډون اجازه ورکړې وه)، د دوحې د بهیر غړو باید د هېواد له سیاسي او مدني خوځښتونو سره په جلا جلا ناستو کې په ګډه د خلکو ربښتینی غږ اورېدلای وای.

د هېواد سیاسي او مدني جریانونه بې له شکه د دې وس لري چې په دې ډول مذاکراتو کې د ګډون لپاره د یوه ګډ او د باور وړ پلاوي پر جوړولو هوکړه ته ورسېږي، که لږ تر لږه له هېواده بهر د دوی لپاره ازاده او خوندي فضا برابره شي (لږ تر لږه هغه څه چې طالبانو ته برابر شوي وو).

بل خوا هغه مسئله چې په حقیقت کې د ټاکلو موخو په ترلاسه کولو کې د دوحې بهیر بریالیتوب له ګواښ سره مخامخ کوي، یو په قصدي ډول د بین الافغاني مذاکراتو پرېښودل دي چې توجیه نشي کیدای. بین الافغاني مذاکرات او بحثونه د ښاغلي سینیرلي اوغلو د لارې په نقشه کې یو له دریېو مهمو مواردو څخه دي.

په داسې حال کې چې له بده مرغه تر اوسه پورې په دې هکله د دوحې د پروسې رسمي دریځ په څرګند ډول نه دی وړاندې شوی، بیخي روښانه ده چې د پریکړه‌لیک عمومي موخو ته رسېدل له بین الافغاني مذاکراتو او ټولشموله هوکړې پرته ناشوني دي. برعکس، که خلک د خپل برخلیک په ټاکلو کې له ګډونه محروم شي او د مذاکراتو او سوله‌ییزو سیاسي حل لارو دروازې پر دوی وتړل شي، بله کومه لاره به ورته پاتې وي؟ د افغانستان سوله او ثبات بې له شکه په بین الافغاني مذاکراتو او هوکړې پورې اړه لري.

په پایله کې باید دا ومنو چې په دربېیم پړاو کې د خواشینوونکې او اندېښمنونکې شاتګ سره سره، د دوحې بهیر د افغانستان، سیمې او نړیوالې ټولنې د ګډو ګټو د ترلاسه کولو لپاره اړین او اغېزمن رول لري او باید دا وشي.

د سیمې او نړیوالې ټولنې د اجماع ساتل او د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د پرېکړه‌لیک او د سفیر سینیرلي اوغلو د سپارښتنو پر موخو او اصولو د دوحې بهیر متمرکز کول، د هېواد د سیاسي او مدني جریانونو یووالی او همغږي، د دوحې په بهیر کې د هغوی حضور او د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې هوکړې د ژمنو پر بنسټ د بین الافغاني مذاکراتو ترسره کول، هغه مهم مسایل دي چې د دوحې بهیر بریالیتوب او د ګډو ګټو ساتنه تضمینوي.